# د لاسرسي ځځه بهر: پر افغانانو د مخابراتي شبکو د بندیدو اغېز

اکتوبر ۲۰۲۵

لنډ راپور

د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالی کمیشنر دفتر

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی

## لنډیز

دا لنډ راپور د ۲۰۲۵ کال د سپتمبر له ۱۵مې راهیسې د *واکمنو* چارواکو لخوا د مخابراتي خدمتونو د بندیدو پر مهال د افغانستان له بیلابیلو برخو څخه د افغانانو تجربې په لنډه توګه بیانوي. دا لنډ راپور د یوناما د بشري حقونو څانګې لخوا د ټول هېواد په کچه د ۴۸ ساعته مخابراتي خدمتونو بندیدو په اړه، د ۲۰۲۵ کال د سپتمبر له ۲۹مې څخه د اکتوبر تر لومړۍ نېټې پورې، له ۱۰۰ څخه د ډېرو ترسره شویو مرکو پر بنسټ چمتو شوی.

مستند شوې تجربې پر افغانانو او په افغان ټولنه کې په څانګړو سکتورونو باندې، په ۴۸ ساعتونو کې د مخابراتي بندیز اغېز تصویر وړاندې کوي چې دغو مواردو ته شامل کیږي: روغتیایي او بیړنیو خدمتونو کې ځنډ یا ورته نه لاسرسی؛ خلکو سره د اړیکو ټینګولو نه امکان له امله د خلکو په ورځني او کورني ژوند کې ګډوډي؛ په ښځو او نجونو باندې د موجوده محدودیتونو زیاتوالی؛ او په انټرنېټ باندې تکیې له امله د سوداګرۍ، بانکدارۍ او بشري مرستو شدید ګډوډیدل چې د افغانانو لپاره د اړینو، اساسي او ژوند ژغورونکو خدماتو ته د لاسرسي او رسولو لپاره مهم دي.

## شالید

د ۲۰۲۵ د سپتمبر له نیمایي راهیسې، *واکمنو* چارواکو په افغانستان کې د نوري فایبر انټرنېټي او ټلیفوني خدمتونو ته د لاسرسي مخه نیولو لپاره په بېلابېلو کچو یو لړ مخابراتي بندیزونه عملي کړي دي.

لومړنی بندیز د سپتمبر د ۱۵مې په ماښام په بلخ ولایت کې ولګېد. د *واکمنې* اداري د بلخ والي دفتر ویاند په خپل ایکس (پخواني ټویټر) اکاونټ خبرتیا خپره کړه چې د طالبانو مشر د "فساد مخنیوي"[1] لپاره په بلخ کې د نوري فایبر انټرنېټي خدمتونو د بندولو امر کړی دی. د سپتمبر د ۱۶ او ۱۷مې ترمنځ، د نوري فایبر شبکې بندیز کندهار، کندز، بغلان، تخار، هرات، زابل، نیمروز، هلمند، ارزګان او نورو ولایتونو ته وغځېد، چې دې نه یوازې انټرنېټ ته لاسرسی محدود کړ، بلکې په ځینو سیمو کې د موبایل شبکو پوښښ هم اغېزمن شو. په ځینو ولایتونو کې د نوري فایبر شبکې تر څو ورځو وروسته په بشپړه توګه بیرته فعالې شوې، خو په نورو ولایتونو کې په جزوي ډول فعالې شوې، او ځینې سازمانونو لکه د *واکمنې* ادرې رسمي دفترونو، قونسلګریو، بانکونو، سوداګریز مرکزونو او د ملګرو ملتونو دفترونو ته د نښلولو اجازه ورکړل شوه.

د سپتمبر په ۲۹مه، د مازدیګر په ۵ بجو، په ټول افغانستان کې د نوري فایبر شبکې بندېدو انټرنېټ او د موبایل ټیلیفون خدمتونه ګډوډ کړل. که څه هم ځینو مخابراتي شرکتونو خپلو پیرودونکو ته د مخه خبر ورکړی و، خو د *واکمنو* چارواکو له لوري هېڅ ډول رسمي خبرتیا یا اعلان نه و شوی. د ۴۸ ساعتونو لپاره، په ټول افغانستان کې خلکو انټرنېټ ته لاسرسی نه درلود، نه یې په موبایل زنګ وهلی شو او نه یې هم لنډ پیغامونه استولای شول. د اکتوبر په لومړۍ نېټه، د ماښام په ۵ بجو، د نوري فایبر شبکه بېرته فعاله شوه.
تر دې دمه د نوري فایبر شبکې د بندېدو لپاره کوم رسمي دلیل نه دی وړاندې شوی. د اکتوبر په ۲مه، د *واکمنې* اداري ویاند د اسوشیټډ پرېس هغه راپور رد کړ چې ویل شوي و دا بندیز د زیربناوو د ترمیم له امله وو.[2] رسنیو د یوه *واکمن* چارواکي له خولې راپور ورکړ چې انټرنېټ د *واکمنې* اداري د لومړي وزیر په امر بېرته فعال شو.[3] د اکتوبر په ۶مه د سکای نیوز سره په یوه مرکه کې، د *واکمنې* اداري ویاند ذبیح‌الله مجاهد وویل: "موږ ته د مخابراتو له وزارت څخه کوم رسمي مالومات نه دي را رسېدلي، له همدې امله موږ نه شو کولای په دې اړه تبصره وکړو."[4]

## میتودولوژي

دا لنډ راپور د یوناما د بشري حقونو د څانګې لخوا د هغو کسانو سره د مرکو پایلې بیانوي چې د ۲۰۲۵ کال په سپتمبر کې په افغانستان کې د مخابراتي شبکو د بندیدو له امله اغېزمن شوي وو.
ټولټال د ۱۱۱ کسانو (۳۹ ښځې او ۷۲ نارینه) سره مرکې وشوې. د مرکه شویو کسانو په ډله کې هغه خلک شامل وو چې په خصوصي سکټور، روغتیا، تعلیم، کرنې، رسنیو، نړیوالو او کورنیو نادولتي مؤسسو، مدني ټولنو او نړیوالو سازمانونو کې کار کوي. یوناما له دریو هغو کسانو سره هم مرکې کړې دي چې د مخابراتي بندیزونو پر مهال یې طبي پاملرنې ته اړتیا لرله. مرکې د افغانستان له ۳۴ ولایتونو څخه په ۳۲ ولایتونو کې ترسره شوې دي.
هغه میتودولوژي چې دلته ترې ګټه اخیستل شوې، د بشري حقونو پر بنسټ ولاړه تګلاره منعکسوي چې د بې طرفۍ، محرمیت، نه زیان رسولو، او باخبره رضایت له اصولو سره سمون لري. ګډونوالو ته د څېړنې موخه او حدود تشریح شوي، او د ګډون څخه دمخه یې رضایت ترلاسه شوی. چیرته چې اړتیا وه، د اشخاصو د خوندیتوب او محرمیت ساتلو لپاره نومونه او د پېژندنې نور مالومات پټ ساتل شوي یا

۱ https://x.com/Hajisahib1234/status/1967677045007425539 .

۲ https://apnews.com/article/afghanistan-internet-outage-taliban-a5fd0e68d75dc3ab1af4519a33698044; https://x.com/Zabehulah_M33/status/1973559416541815280.

۳ https://www.bbc.com/news/articles/c0jq2q5jnw3o

٤ https://news.sky.com/story/afghanistan-taliban-says-it-will-never-hand-over-bagram-air-base-to-us-13445422

هم بې نومه ښوول شوي دي.

## په ورځي ژوند بې اغېز

د ايس ايم ايس يا ډيجيټل پيغام رسوني اپليکيشنونو له لارې پيغامونو ليږلو لپاره يا د زنګ وهلو هيڅ وسيله نه وه، د هيواد په کچه د خلکو عادي يا بيړنۍ اړيکې له خپلو کورنيو او ملګرو سره پرې شوې وې. مرکه کونکو دا هم راپور کړې چې دوی نه شو کولای اړين خدمتونو ته لاسرسی ولري او عادي کارونه ترسره کړي.

ځينو خلکو د دوی په رواني روغتيا د بنديزونو منفي اغېزو ته په اشارې سره ويلي چې دوی شاک،[5] فشار،[6] بېوسي،[7] خپګان،[8] ويره[9] او ذهني کړاو[10] تجربه کړي دي.

> *"د ډېرو نورو خلکو په څېر، ما خپله هڅې وترله او کور ته لاړم، ترڅو ډاډه شم چې کومه بده پېښه رامنځته نشي، او زه وکولای شم خپله کورنۍ وساتم، ځکه زماد کورنۍ ټول غړي تر سخت ذهني فشار لاندې وو."[11]*

يوه مرکه کونکي کس وويل، د ويرې او انديښنې له امله، هغه کسانو چې: "پيسي درلودې، ژر تر ژره وريجې، اوړه، غوړي او نور اړين توکي واخيستل". خو، هغه يادونه وکړه چې "بېوزله کورنۍ په سخت انديښمن حالت کې وې او د يوه تياره او ناڅرګنده راتلونکې فکر يې کاوه."[12] دوه نورو مرکه کونکو وويل چې د بنديز پر مهال د اړينو توکو بيه لوړه شوه.[13] د خلکو ترمنځ باور کم شو، هغه هېيوال چې په نورو ورځو کې يې پيرودونکو ته توکي په پور ورکول، د بنديز پر مهال يې له دې څخه انکار وکړ.[14] يو سړي وويل: "د ټولنې احساس کمزوری شو، او تمرکز يوازې په ژوندي پاتې کيدو شو".[15]

خلکو د بيړنيو خدماتو ادارو سره د اړيکې نيولو لپاره هيڅ وسيله نه درلوده، پرته له دې چې شخصاً ورشي، چې دې ځينې بيړني حالتونه نور هم تشديد کړل:

> *"زه خبر شوم چې په يوه نږدې کور کې اور لګېدلی دی. کورنۍ ونه توانيده چې د اور وژنې ادارې سره اړيکه ونيسي، چې له امله يې سخت زيانونه رامنځته شول. د مخابراتي خدمتونو د نشتوالي له امله، خلک اړ شول چې د بيړنيو حالاتو راپور ورکولو لپاره د پوليسو پوستو ته ورشي."[16]*

لږ تر لږه درې مرکه کونکو يادونه وکړه چې د مخابراتي خدمتونو د بنديز پر مهال، يو کس چې دوی پېژنده، مړ شو، او د مړ شوي کس د کورنۍ ځينې غړي هغه مهال خبر شول چې انټرنيټ بيرته فعاله شو او د جنازې او فاتحې مراسم ترسره شوي و: "زموږ په کلي کې، يو سړی مړ شو، مګر د هغه زوی، چې په کابل کې و، د خپل پلار له مړينې بې خبره پاتې و او په جنازه کې يې ګډون ونشو کړای."[17]

سفرونه هم ګډوډ شول. يو مسافر هوايي ډګر ته د دې لپاره ولاړ او پوه شو چې پرواز يې لغوه شوی. هغه وويل:

> *"خلک ډېر انديښمن وو او په کونجونو کې، په ځمکه ناست وو. ځينې خلک ناروغه ول، دوی اړتيا درلوده چې د خپلې درملنې لپاره له افغانستان څخه بهر ډاکټر ته لاړ شي، خو هيڅ چا يې غږ نه اوريد."[18]*

دې بنديز د *واکمنې* ادارې د دفترونو کارونه هم اغېزمن کړل او د عامه خدمتونو وړاندې کول يې ټکني کړل. د بېلګې په توګه، د *واکمنې* ادارې د قانون پلي کونکي اړ شول چې د لوړ فريکونسي راډيوګانو په کارولو سره اړيکې وساتي او خلک په موټرسايکلونو واستوي ترڅو پيغامونه په حضوري ډول ورسوي؛ د پاسپورټونو او د پېژندنې اسنادو غوښتنې پروسس کېدای نه شوی ځکه چې د مالوماتو مرکزي سيستم لاسرسي ته يې اړتيا لرله.

## په ښځو بې اغېز

يو شمېر ښځو وويل چې د مخابراتي خدمتونو د بنديز له امله، د دوی د کورنۍ غړي د کور څخه بهر د دوی د کار کولو په

٥ ۴۱مه شميره مرکه
٦ ۱۱مه، ۳۴مه او ۴۱مه مرکه
٧ ۳۴مه مرکه
٨ ۳۷مه، ۶۴مه او ۷۴مه مرکه
٩ ۱۰۰مه مرکه
١٠ ۷مه او ۶۸مه مرکه
١١ ۴۱مه مرکه
١٢ ۱۰۷مه مرکه
١٣ ۱۰۶مه او ۱۰۷مه مرکه
١٤ ۱۰۰مه مرکه
١٥ ۱۰۷مه مرکه
١٦ ۳۷مه مرکه
١٧ ۳۷مه، ۳۸مه او ۴۰مه مرکه
١٨ ۵۰مه مرکه

اره سخت اندیښمن شول. یوې ښځینه سوداګرې وویل: "د افغانستان په څېر یوه ټولنه کې، په ځانګړې ډول د ښځو لپاره ستونزمنه ده چې حتی یو ساعت دې هم له خپلې کورنۍ سره په اړیکه کې نه وي." نومورې وویل، چې هغه د افغانستان په یوه ختیځ ولایت کې ژوند کوي، کله چې بندیز رامنځته شو، د کار لپاره کابل ته تللې وه. هغې وویل:

*"ډېره هڅه مې وکړه چې [زما مور] قانع کړم ترڅو ما ته اجازه راکړي چې کار ته دوام ورکړم - مګر یوازې په دې سخت شرط چې زه به حتی د کار لپاره هم نور له خپل ولایت نه بهر سفر نه کوم."* [19]

یوې بلې ښځې چې نرسه وه، وویل:

*" دا لا دمخه ستونزمنه وه چې ټولنه او حتی زموږ خپله کورنۍ دې ومني چې یوه ښځینه دې په یوه لرې پرته سیمه کې کار وکړي. کله چې ټیلیفونونه او انټرنیټ بند شول، زه په بشپړه توګه له خپلې کورنۍ څخه جلا شوم. زما مېړه او نور خپلوان ډېر اندیښمن شول، کورنۍ په داسې حالت کې ښځو ته د کار کولو اجازه نه ورکوي که چیرې دوی احساس وکړي چې دا خوندي نه ده، یا یې ورسره اړیکه نه وي. زه د خپلې دندې د له لاسه ورکولو له خطر سره مخ وم ځکه چې زه نشم کولای خپلې کورنۍ ته زنګ ووهم ترڅو د هغوی حال وپوښتم."* [20]

ښځو دا هم وویل چې څه ډول د *واکمنو* چارواکو له خوا لګول شوي اوسني بندیزونه د ټیلیفون او انټرنیټ د بندېدو له امله لا سخت شول. د بېلګې په توګه، د محرم فرمان له مخې ښځې باید په موټر کې د سفر کولو یا د ۷۸ کیلومټرو څخه ډېر واټن لپاره له یوه محرم سره ولاړې شي.[21] د هېواد په ځینو برخو کې، حتی کله چې ښځه د کور نه د ۷۸ کیلومټره کم واټن کې د بازار، کار یا روغتیايي مرکز ته ځي، محرم باید ورسره وي.[22] خو ځینو ښځو وویل چې د ټیلیفون او انټرنیټ د بندېدو په وخت کې یې د خپلو محرمو سره اړیکه نه شوه نیولی.

*"زه یوه ښځه یم او باید یو محرم له ځان سره ولرم [...] ما نه شو کولای د خپل پلار سره اړیکه ونیسم، نو زه باید یوازې کور ته تللې وای. کله چې زه کور ته تلم نو ډېره وېرېدم، خو له نېکه مرغه، زه شاوخوا یو ساعت وروسته په خوندي توګه کور ته ورسیدم."* [23]

د *واکمنو* چارواکو لخوا د تګ راتګ بندیزونو له امله، ډېرو ښځو د عاید ترلاسه کولو یا د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره په انلاین بازارونو تکیه کوله. په ټیلیفون او انټرنیټ بندیزونو دا انلاین فعالیتونه ودرول:

*"د ښځو په کار او نجونو په زده کړو له بندیزونو وروسته، ډېرو ښځو آنلاین کاروبارونه پیل کړل چې په عمده توګه د انسټاګرام، فیسبوک او نورو ټولنیزو شبکو له لارې فعالیت کوي. د هېواد په کچه د انټرنیټ دوه ورځنی بندیز زموږ په فعالیتونو باندې د پام وړ منفي اغېزه درلوده. ځکه چې آنلاین کاروبار په بشپړ ډول انټرنیټ سره تړاو لري، نو دغه بندیز ټولې آنلاین چارې په بشپړه توګه ودرولې."* [24]

آنلاین زده کړه د ډېرو افغان مېرمنو او نجونو لپاره د زده کړې کولو یوازینۍ لار ده ځکه چې د *واکمنو* چارواکو لخوا د شپږم ټولګي څخه پورته د ښځو او نجونو په زده کړو بندیز لګول شوی. هغه ښځینه زده کوونکې چې د خپلو زده کړو د دوام لپاره په انټرنیټ تکیه کوي د بندیز له امله ځوریدلي دي. یوې ښځې داسې وویل:

*"زموږ آنلاین زده‌کړې دوه درې ورځې وځنډول شوې. زه په ساده ډول ویلی شم چې دا زموږ لپاره ډېرې سختې ورځې او شپې وې. موږ ډېره وېره درلوده چې شاید بیرته د بشري تاریخ ډېرېن دور ته وګرځول شو. دا زموږ د ژوند یوه نه زغمونکې دوره وه."* [25]

## روغتیايي خدمتونو ته پر لاسرسي اغېز

یوناما د یو شمېر روغتیايي کارکوونکو او ناروغانو سره مرکې وکړې، مرکه کوونکو ویلي چې د انټرنیټ بندیدو له امله دوی نه وو توانیدلي چې د درملنې غوښتنه وکړي او یا هم ورته روغتیايي خدمتونه ورسیږي.

۱۹ ۱۱مه مرکه
۲۰ ۱۳مه مرکه
۲۱ د *واکمنې* اداري د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت اعلامیه https://twitter.com/MOPVPE1/status/1476889768357150729?s=20&t=7TuX4pPt6OQEvsPvgZDDFA؛ او د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون ۲۰ مې ماده.
۲۲د بېلګې په ډول وګورئ، یوناما، په افغانستان کې د بشري حقونو وضعیت، اپریل- جون ۲۰۲۵، "د ښځو او نجونو د حقونو او د بیان او تګ راتګ آزادي تر عنوان لاندې": https://unama.unmissions.org/sites/default/files/english_-_unama_hrs_update_on_human_rights_in_afghanistan_april-june_2025_final.pdf
۲۳ ۳مه مرکه
۲۴ ۷۲مه مرکه
۲۵ ۳۶مه مرکه

څو روغتیایي کارکوونکو د مخنیوي وړ هغو مړینو په اړه خبرې وکړې چې د دې بندیز له امله رامنځته شوې وې:

- د لغمان ولایت د یوې ولسوالۍ روغتون یوې روغتیاپالې وویل، د مخابراتي خدمتونو باندې د بندیز پر مهال، د دوی د روغتون مهم طبي توکي لکه انټي بایوټیک او وریدي درمل خلاص شول. هغې وویل چې معمولا، روغتون له ولایتي دفتر سره اړیکه نیسي تر څو د عاجلې بیارسونې غوښتنه وکړي، مګر د ټیلیفون یا انټرنیټ د نشتون له امله دوی بله لار نه درلوده چې اړیکه ونیسي. سربیره پردې، د روغتون آمبولانس خراب شو او دوی ونه توانیدل چې د بدیل آمبولانس غوښتنه وکړي. یوه امیندواره ښځه د سختې وینې بهیدنې سره روغتون ته راغله او اړتیا وه چې په بیړنۍ ډول د درملنې لپاره ولایتي روغتون ته ولیږدول شي، مګر د امبولانس یا د مرستې غوښتلو د هیڅ وسیلې د نه لرلو له امله، دوی باید څو ساعته په تمه شوي وی تر هغې چې یو څوک د ولایت مرکز ته تللی وی او پیغام یې رسولی وی. روغتیاپالې وویل، د میرمنې حالت خراب شو، ماشوم یې مړ شو، خو ښځه د ډیرو ستونزو له پاسه وژغورل شوه. هغې وویل:
  *"دا ویجاړونکی حالت و. د ټلیفون او انټرنیټ بندیدو ماته داسې احساس راکولو لکه چې په بشپړه توګه یوازې پریښودل شوې یم. د یوې روغتیاپالې په توګه، زه د ژوند ژغورلو لپاره روزل شوې یم، مګر له اړیکو پرته، ځان بې وسه احساسوم. ډیر لږ کار مې کولای شو. ما د ملاتړ ټیم غړي په موټر سایکل ولایتي روغتون ته د عاجلو پیغامونو د رسولو لپاره واستول. دې کار به څو ساعته او کله ناکله آن بشپړه ورځ ونیوله."*

- د زابل ولایت یوه روغتیا پال وویل چې درې ماشومان په روغتون کې مړه شول ځکه دوی ونه توانیدل چې له خپلو کورنیو سره اړیکه ونیسي څو د وینې بانک څخه وینه راوړي.[26]

- د بادغیس ولایت څخه یوه ډاکټر وویل چې د بندیز په لومړۍ شپه، پنځه ماشومان چې په خوارځواکۍ اخته وو، مړه شول، ځکه روغتون کې کارکوونکي لږ وو او هغوی ونه توانېدل چې ډاکټرانو ته زنګ ووهي ترڅو روغتون ته راشي او د ناروغانو درملنه وکړي.[27]

یو شمېر خلکو وویل چې د بندیز له امله یې د اړتیا وړ روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی ځنډېدلی. یو تن وویل چې هغه د سینې درد احساسولو، او ویره یې لرله چې شایې د زړه حمله وي. په انټرنیټي خدمتونو باندې د بندېز له امله، هغه نه شو کولای روغتون ته د ټګ لپاره اړیکه ونیسي، نو هغه پرته د وخت اخیستو څخه روغتون ته ولاړ. روغتون ته په رسیدو یې ولیدل چې د ناروغانو د ثبت ټوله پروسه په لاسي ډول ترسره کیده ځکه چې انټرنیټ نه و. له همدې امله، هغه سري له درد سره څو ساعته په تمه شو تر څو درملنه یې وشي.[28] نورو کسانو ورته تجربې شریکې کړې، او ویل یې چې د بندیز له امله د تشخیص معمولي معایناتو له عادي حالت څخه ډیر وخت ونیوه.[29] یوې میرمنې وویل چې د هغې امیندواره ورینداره د بندیز پرمهال سخته ناروغه شوه، او له دې امله چې کور کې نارینه نه و او د نارینه خپلوانو سره د اړیکې نیولو وسیله نه وه، نو دوی ونه توانېدل چې په وخت یې روغتون ته یوسي ځکه چې د مَحرم (نارینه سرپرست) ملتیا ته اړتیا وه. هغې وویل له دې امله د هغې د ورېندار روغتیایي حال خراب شو، خو بالاخره یې درملنه وشوه.[30]

د فراه ولایت یوې میرمنې وویل چې د سپتمبر په ۲۹مه شپه یې میړه هرات ته تللی و. ماښام ناوخته یې زوی مغزي سکته وکړه. په کور کې یې درمل درلودل، خو هغې د درملو د کارولو په اړه د ډاکټر مشورې لپاره زنګ نه شو وهلی، نو اړ شوه چې نږدې کلینیک ته ولاړه شي ترڅو لارښوونې ترلاسه کړي. سهار وختي، هغې نه غوښتل خپل زوی یوازې پرېږدي، مګر اړ شوه چې د دندې ځای ته خپله ولاړه شي او همکارانو ته خبر ورکړي چې د زوی ساتنې له امله نوموړې نه شي کولای دندې ته حاضره شي، ځکه چې هغې د اړیکې نیولو لپاره بل هیڅ وسیله نه درلوده.[31]

روغتیایي کارکوونکو وویل چې د بندیز له امله له ګڼو ستونزو سره مخ شوي دي. ډېرو یې د همغږۍ ستونزې یادې کړې — ځکه ناروغانو نه شو کولای له روغتونونو او کلینیکونو ته د ټګ لپاره اړیکه ونیسي، نو پرته د ملاقات وخت اخیستو ورغلي، چې په ځینو مراکزو کې ګڼه ګونه ډیره شوې وه. یوه روغتیایي کارکوونکي وویل چې ځینې ناروغان له ولسوالیو څخه روغتون ته پرته د ملاقات وخت اخیستو ورغلي و او اړ شوي چې بېرته کور ته ولیږل شي ځکه چې د هغوی متخصص ډاکټر شتون نه درلود.۳۲ د نورو ځایونو په روغتونونو کې د ناروغانو په شمېر کې په ناڅاپي ډول د پام وړ کموالی په ګوته شوی، ځکه خلکو نه شوی کولای د ملاقات لپاره وخت واخلي یا د مرستې لپاره امبولانس ته زنګ ووهي.

*"عادي وخت کې، موږ هره ورځ له ولسوالیو څخه لسګونه بیړنۍ زنګونه ترلاسه کوو، خو د بندیز پرمهال دا زنګونه بند شول."*[33]

۲٦ ۹۵مه مرکه
۲۷ ۷۰مه مرکه
۲۸ ۱۷مه مرکه
۲۹ ۹۳مه مرکه
۳۰ ۹۵مه مرکه
۳۱ ۲مه مرکه
۳۲ ۳۳مه مرکه
۳۳ ۳۷مه مرکه

یو بل تن وویل:

*"په بېړنیو حالتونو کې، موږ معمولا په ۲۴ ساعتونو کې څو زنګونه ترلاسه کوو چې د امبولانس خدماتو غوښتنه کوي. د بندیز پر مهال، موږ هیڅ لاره نه درلوده چې یوه شو څومره ناروغان بیړني انتقال ته اړتیا لري، او ډېر یې ممکن د اړیکو د نشتوالي له امله زیانمن شوي وي."* [۳٤]

روغتیايي کارکوونکو وویل چې د بندیز پر مهال یې د ناروغانو د وضعیت څارنې لپاره اضافي ګامونه اخیستي، ځکه دوی نه شو کولای د ټیلیفون له لارې د ناروغانو وضعیت وڅاري. یوې نرسې وویل چې له بندیز مخکې یې له یوه ناروغ سره د ټیلیفون له لارې اړیکه نیوله ترڅو د هغه د روغتیا نښې نښانې وڅاري. هغې وویل چې د بندیز پر مهال د ناروغ وضعیت خراب شوی و او د ناروغ کورنۍ زما سره اړیکه نه شوه نیولی، ناروغ یې د شپې ناوخته زموږ کور ته راووړ. هغې تر سهاره پورې په خپل کور کې د ناروغ د حالت څارنه کوله.[۳۵] یو ډاکټر وویل چې د بندیز په وخت یې د خپلو ناروغانو لیدنې لپاره په خپل شخصي لګښت ټکسي کرایه کړه، ځکه هغه نه شو کولای د ناروغانو حالت له لرې څخه وڅاري.[۳٦]

روغتیايي کارکوونکو دا هم راپور کړه چې د بندیز په وخت دوی نه شو کولای چې د لابراتوار پایلې او ایکس رې کابل یا نورو روغتونونو ته د متخصصو ډاکټرانو د تحلیل او تشخیص لپاره واستوي، ځکه دوی د فایلونو د لېږد لپاره انټرنیټ ته اړتیا درلوده.[۳۷] هغوی وویل چې دې کار د ناروغانو تشخیص او درملنه کې ځنډ رامنځته کړی. د مزار شریف یوه روغتیايي کارکوونکي وویل چې د بندیز پر مهال د دوی د ایکس رې ماشین کار پرېښود او ترمیم یې نه شو کولای، ځکه د ماشین د بیا جوړولو تخنیک کران، چې معمولاً له پاکستان څخه له لرې یې دوی سره مرسته کوله، د بندیز له امله ورسره اړیکه ونه شوه نیولی.[۳۸]

یو شمېر مرکه شویو کسانو د هغو ستونزو یادونه وکړه چې ناروغان نه وو توانیدلي، د خپلو کورنیو له غړو سره اړیکې ونیسي او د خپلې روغتیا په اړه مالومات ورکړي.[۳۹] د یوه روغتون کارکوونکي وویل چې دوی نه شو کولای ناروغان رخصت کړي ځکه دوی د بې سرپرسته میرمنو او ماشومانو د کورنۍ غړو یا محرمو سره اړیکه نه شوه نیولی ترڅو له دوی څخه وغواړي چې روغتون ته راشي او خپل ناروغان یوسي.

د ننګرهار یوې امیندواره میرمنې ته د سپتمبر په ۲۹مه ماښام مهال د زېږون دردونه ولګېدل. د هغې خاوند په کار کې و، له میړه سره د اړیکې نیولو لپاره د هغې سره هیڅ وسیله نه وه، نو هغه له خپلې خواښې سره روغتون ته ولاړه. کله چې د هغې میړه کور ته راغی، نوموړی نه پوهیده چې دوی په جلال آباد کې کوم روغتون ته تللي دي، په ښار کې یې څو روغتونونه وکتل، خو میرمن یې ونه موندله. د شپې ناوخته، ډاکټرانو میرمنې ته وویل چې ډېر ژر به زېږون وکړي، نو له همدې امله د هغې خواښې بیرته کور ته لاړه ترڅو د ښځې میړه پیدا کړي.

یوې ښځې خپله تجربه داسې شریکه کړه:

*"کله چې [زما میړه او خواښې] بیرته راستانه شول، ما دمخه د خپلې کورنۍ د غړو له مرستې او شتون پرته زېږون کړی و، چې ډېر ستونزمن او دردناک و ... یوازینی کار چې ما کولای شو دا وه چې د زېږون پرمهال روغتون کې یوازې پاتې شم او خپله خواښې د خپل خاوند د راوستو لپاره ولیږم. د یوې ښځې په توګه د هغې لپاره دا ډېره سخته وه چې د شپې په یوازې ځان [زموږ ولسوالۍ] ته سفر وکړي. زه په ډاډ سره ویلای شم چې دا زما د ژوند تر ټولو سخته او دردناکه تجربه څخه وه."* [٤٠]

ناروغانو د درملنې د پیسو ورکولو ستونزې هم لرلې ځکه دوی نه شو کولای له بانکونو څخه پیسې وباسي او یا د بریښنايي لیږد له لارې د کورنۍ له غړو څخه پیسې ترلاسه کړي.[٤١] یو سړي وویل چې د هغه د میرمنې درملنه له دې امله وځنډول شوه، چې نوموړی په ایران کې د خپلوانو په تمه و چې د میرمنې د درملنې لپاره ورته پیسې واستوي، خو د بندیز له امله دا معامله ترسره نه شوه.[٤٢] په ورته ډول، یوې نرسې وویل چې هغې د خپلو ناروغانو لپاره هیڅ ډول درمل نه شو اخیستلی، ځکه هغې نه شو کولای له بانک څخه پیسې وباسي.[٤٣]

## په رسنیز سکټور او د بیان په ازادۍ اغېز

د مخابراتي خدمتونو بندیز په اړه د رسمي بیانیې نشتون د خلکو ترمنځ اندیښنه رامنځته کړه. یو خبریال وویل: "ډېر خلک زما دفتر ته راغلل چې مالومات ترلاسه کړي، خو ما نه شو کولای ځواب ورکړم چې ولې مخابراتي خدمتونه ګډوډ شوي دي."[٤٤]

٣٤ ۳۳مه مرکه
٣٥ ۱۰۵مه مرکه
٣٦ ۱۰۶مه مرکه
٣٧ ۳۳مه او ۳۷مه مرکه
٣٨ ۵۹مه مرکه
٣٩ ۳۱مه مرکه
٤٠ ۱۴مه مرکه
٤١ ۵۹مه مرکه
٤٢ ۷۷مه مرکه
٤٣ ۱۰۵مه مرکه
٤٤ ۱۸مه مرکه

د مالوماتو د نشتون له امله آوازې او ناسم مالومات خپاره شول، چې د خلکو په منځ کې يې د بې باورۍ او اضطراب فضا رامنځته کړه. هغه آوازې چې د خلکو لخوا خپرې شوې وې بيلابيلې او ويره اچونکې وې، په بګرام هوايي ډګر[٤٥] کې د امريکايي ځواکونو له شکته کېدو څخه نيولې تر ملي کودتا[٤٦] يا پاڅون[٤٧] پورې او تر دې چې انټرنيټ د طالبانو مشر بند کړی دی.[٤٨] د يو خبريال په وينا، چې د هغوی په سيمه کې ډېری اوسيدونکې په خپلو کورونو کې پاتې شول، ويريدلي او انديښمن وو."[٤٩]

په هېواد کې د بيان آزادۍ عمومي نشتوالي ته په پام سره، يو خبريال وويل چې هغه د خپل سري نيول کيدو له ويرې د بنديز د علت په اړه د مالوماتو لپاره له *واکمنو* چارواکو سره د اړيکې نيولو څخه ويره درلوده.[٥٠] يو بل خبريال د بنديز د لامل معلومولو په نيت له *واکمنو* چارواکو سره اړيکه ونيوله، خو هيڅ ځواب يې ترلاسه نه کړ: "که څه هم، ما هڅه وکړه چې *واکمن* د اطلاعاتو او کلتور رياست په ګډون د *واکمنې* ادارې له بيلابيلو رياستونو سره اړيکه ونيسم ترڅو د بنديز په لامل پوه شم، مګر دوی ته هم يواځې د بنديز په اړه خبر ورکړل شوی و."[٥١] يوه خبريال د بيان په ازادۍ د بنديز اغېزې په لنډه توګه داسې بيان کړې:

*"بنديز د اړيکو او رسنيو خپلواکې هم محدوده کړه، رسنۍ يې غلې کړې او د ممکنه ناوړه پېښو، لاريونونو او بېړنيو حالاتو د راپور ورکولو مخه يې ونيوله. په دې توګه، دا د سانسور يوه بڼه وه [...] دې چارې د خلکو خونديتوب هم له خطر سره مخ کړ، ځکه چې دوی نشو کولای له قانون پلي کونکو، د کورنۍ غړو، بېړنيو خدمتونو، يا بشري سازمانونو سره اړيکه ونيسي. ډېری خلک ويريدلي او مغشوش وو.آن د واکمنې ادارې چارواکي سخت انديښمن وو، ځينو هڅه وکړه چې وتښتي، پداسې حال کې چې نورو يې د واکمنو چارواکو لخوا خيانت احساس کړ او په غوسه وو، په دې باور وو چې د دوی د کلونو وفادارۍ له پامه غورځول شوې ده. .دې پيښې وښوده چې په خلکو کې واکمنو چارواکو باور له لاسه ورکړی دی."* [٥٢]

هغه رسنۍ چې د خپلو پروګرامونو د خپرولو لپاره پر انټرنيټ تکيه وې، د انټرنيټي خدمتونو د بندېدو پر مهال يې خپل فعاليتونه په بشپړ ډول ودرول.[٥٣] هغه ټلويزيونونه او ايف ايم راډيوګانې چې د انټرنيټ له لارې يې خپرونې نه کولې، خپل کار ته يې دوام ورکړ، خو دوی هم راپور ورکړ چې خپرونې يې اغېزمنې شوې. خبريالانو نه شو کولای چې له سرچينو څخه د انټرنيټ يا ټليفون له لارې مالومات ترلاسه کړي، او نه يې هم خپل مرکزي دفتر ته راپورونه استولی شول.

*"د مخابراتي خدمتونو د بنديز پر مهال، زموږ اړيکه له [ځايي خبريالانو] سره په بشپړه توګه پرې شوه. زموږ خبرونه او عامه پروګرامونه - چې معمولا خلک د بيلابيلو مسلو په اړه د بحث لپاره ورته زنګ وهي - بايد ځنډول شوې وای. موږ د باور وړ خبري سرچينو ته لاسرسی نه درلود، ځکه دواړه نړيوالې او ملي ټلويزيوني او راډيوي وېبپاڼې، چې زموږ د مالوماتو اصلي سرچينې دي، د لاسرسي وړ نه وې"* [٥٤]

ډېری ژوندۍ خپرونې لغوه شوې ځکه چې کوربه نه شو کولای له خپلو رابلل شويو ميلمنو سره اړيکه ونيسي. همدا رنګه ليدونکو او اوريدونکو نه شو کولای د خبرو اترو خپرونو ته زنګونه ووهي. يو خبريال وويل چې د دوی راډيو سټيشن زاړه پروګرامونه خپرول چې د اوريدونکو لپاره "سټرې کوونکي" وو.[٥٥] يو بل خبريال وويل چې هغه خپل کار ته د مخامخ مرکو له لارې دوام ورکړ، چې وخت يې نيوه، د لګښت ډک سفر ته يې اړتيا درلوده، او راپور ورکولو کې يې ځنډ رامنځته کولو.

*"په دې وروستيو کې، په کونړ ولايت کې زلزله وشوه [...] او ماته له سيمې څخه د راپور ورکولو دنده سپارل شوې وه. کله چې د انټرنيټ او موبايل خدمتونه بند شول، زموږ راپورونه د څو ورځو لپاره وځنډېدل."* [٥٦]

## په سوداګرۍ يې اغېز

د صرافانو، د بانکولۍ او مالي ادارو استازو، د انټرنيټي خدمتونو چمتو کونکو، آنلاين کاروبار کونکو، د کوچنيو سوداګريو خاوندانو، ښوونکو، بزګرانو، ريکشا چلوونکو، او د درزيانو (خياطانو) په ګډون - يوناما له بيلابيلو سوداګرو او د مسلک خاوندانو سره مرکې وکړې چې ټولو يې د مخابراتي خدمتونو د بنديز له امله د دوی په سوداګرۍ د منفي اغېزې راپور ورکړی.

٤٥ ۲مه، ۱۲مه، ۱۶مه، ۳۴مه، ۴۲مه، ۴۵مه، ۴۷مه، ۴۹مه او ۵۰مه مرکه
٤٦ ۴۲مه او ۴۵مه مرکه
٤٧ ۴۲مه او ۴۵مه مرکه
٤٨ ۴۰مه مرکه
٤٩ ۴مه مرکه
٥٠ ۶مه مرکه
٥١ ۴۵مه مرکه
٥٢ ۴۱مه مرکه
٥٣ ۸۶مه مرکه
٥٤ ۴مه مرکه
٥٥ ۶۹مه مرکه
٥٦ ۸مه مرکه

د بندیز پرمهال د صرافۍ دوکانونه وتړل شول ځکه چې دوی د معاملو ترسره کولو، د تبادلې د تازه نرخ معلومولو، د افغانستان دننه او بهر د نورو تبادله کونکو سره د اړیکو نیولو او د تادیاتو پروسس کولو لپاره په آنلاین سیستم تکیه کوي.[۵۷] یو تن صراف اټکل وکړ چې د دوی په ولایت کې شاوخوا ۱۰۰ د صرافۍ دوکانونه وو، چې هر یوه په ورځني ډول د ۱۰۰ او ۳۵۰ ډالرو ترمنځ عاید درلود، خو ټول به د بندیز له امله اغېزمن شوي وي.[۵۸]

په ټول هېواد کې د بانکونو ماشینونه غیر فعال وو او نږدې ټول بانکونه تړلي وو، هغه بانکونه چې د بندیز پر مهال پرانیستي وو، یوازې محدود خدمتونه یې وړاندې کول.[۵۹] همدا راز د هېواد دننه او بهر د پیسو لېږد را لېږد درول شوي و.[۶۰] د بانک یوه کارکونکې وویل:

*ځینې پیرودونکي اړ وو چې له بانک څخه پور واخلي، خو ځینې نورو لپاره هغه ورځ د پورونو بېرته ورکولو وروستۍ نېټه ټاکل شوې وه. تاسې تصور نه شئ کولای چې زه د دې بندښت پر مهال څومره زوریدلی یم. پیرودونکي د خپلو پیسو د له لاسه ورکولو یا د دوی د عادي سوداګریزو فعالیتونو د بندیدو په اړه اندېښمن وو. ټول بانکي سیستم ګډوډ او تړل شوی و.[۶۱]*

څرنګه چې بندیز د میاشتې په پای کې ولګول شو، ځینو مرکه کونکو د معاشونو په ورکړه کې د ځنډ یادونه وکړه، چې له امله یې مالي ستونزې رامنځته شوې.[۶۲] ډېری افغانان په مالي لحاظ له بهر څخه په رالېږل شویو پیسو تکیه کوي. یو تن صراف وویل: "خلک ډېر اندېښمن وو، ځکه چې خپلوان یې په روغتونونو کې وو او له بهر څخه لېږل شویو پیسو ته یې جدي اړتیا درلوده".[۶۳]

په محلي کچه د انټرنېټي خدمتونو وړاندې کونکو پلورنځیو د بندیز پر مهال هیڅ پیرودونکي نه درلودل، ځکه پیرودونکو "ویره درلوده چې خدمتونه به بېرته پیل نه شي".[۶۴] یوه پلورونکي د دوه ورځني بندیز په موده کې خپل زیان شاوخوا ۱۰۰,۰۰۰ افغانۍ (۱,۵۱۷ ډالره) اټکل کړ.[۶۵] ځینو پلورونکو وویل چې اوس یې پیرودونکي د بل بندیز په اړه وېرېدلي او له همدې امله د نوري فایبر انټرنېټ بیا اخیستو ته زړه نه ښه کوي.[۶۶]

د انلاین سوداګرۍ مالکینو د بندیز پر مهال نه شو کولای نوي فرمایشونه واخلي، لېږد تنظیم کړي، یا تادیات ترلاسه کړي.[۶۷] زیاتره انلاین یا غیر انلاین سوداګرۍ — لږ تر لږه د فعالیت لپاره په یوه مخابراتي سیستم تکیه کوي، د عرضه کونکو، پیرودونکو او همکارانو سره د اړیکو لپاره د ټیلیفون او یا انټرنېټ څخه کار اخلي. بندیز په هر ډول سوداګرۍ منفي اغېزه وکړه: یوه بزګر وویل چې دوه ځلې بازار ته ولاړم، ترڅو هغه توکي واخلم، د کومو فرمایش چې به ما په عادي حالت کې د ټیلیفون له لارې ورکوو؛[۶۸] یو رکشا چلونکي وویل چې پیرودونکو یې نشو کولای له هغه سره اړیکه ونیسي او لېږد را لېږد تنظیم کړي، نو له همدې امله یې ګټه له لاسه ووته؛[۶۹] او یوې خیاطې وویل چې د یو عاجل فرمایش په اړه ونه توانیده، له یوه پیرودونکي سره خبرې وکړي.[۷۰] هوټلونو او رسټورانټونو ریزرویشنونه[۷۱] نه شو ترلاسه کولای، د یوه هوټل مدیر وویل: "له بندیز مخکې، زموږ ډېری خونې د مېلمنو، په ځانګړې توګه د بهرنیو سیلانیانو او د نړیوالو او کورنیو سازمانونو د کارکوونکو لخوا په کرایه نیول شوې وې. خو د سپتمبر له ۲۹ څخه تر اوسه [۷ اکتوبر] پورې، حتی یو مېلمه هم نه لرو."[۷۲]

ځینو سوداګرو د کاروبار د دوام او د بندیز پر مهال د زیانونو د کمولو لپاره بیلابیلې لارې چارې و ازمایلې. ځینې سوداګر د ایران له پولې سره نږدې سیمو ته لاړل او د اړیکو لپاره یې د ایران سیم کارتونه واخیستل.[۷۳] د لبنیاتو یوې پلورونکې د اړیکو ساتلو لپاره له ټکسي څخه کار واخیست، چې ډېر ګران تمام شو. هغې وویل:

*زما کاروبار پر ځایي بزګرو تکیه دی ځکه زه له دوی څخه شیدې راټولوم او د لبنیاتو په محصولاتو لکه پنیر، کوچ، مستو یې بدلوم او بیا یې بیلابیلو بازارونو کې ویشم [...]. ما ونه شو کولای چې دا کارونه په [بیلابیلو ولایتونو] کې له خپلو همکارانو سره همغږي کړم. په دې موده کې، ما د قراردادي دوکاندارانو سره د همغږۍ لپاره له ټیکسي څخه ګټه اخیسته، معمولا دغه کارونه زه د ټلیفون یا انټرنېټ پر مټ ترسره کوم. ما د لوی زیان د مخنیوي لپاره له ټکسي څخه ګټه اخیسته، ځکه لبنیات ډېر ژر خرابېږي. په دې دوه ورځو کې مې هیڅ ګټه ونه کړه، خو وتوانېدم چې زیان ونه کړم او خپل قراردادي بزګران هم وساتم.[۷۴]*

۵۷ ۶۰مه مرکه
۵۸ ۱۰۸مه مرکه
۵۹ ۶۲مه مرکه
۶۰ ۵۳مه مرکه
۶۱ ۶۶مه مرکه
۶۲ ۵۰مه، ۶۵مه او ۵۱مه مرکه
۶۳ ۶۰مه مرکه
۶۴ ۱۰مه مرکه
۶۵ ۵۴مه مرکه
۶۶ ۵۴مه او ۵۵مه مرکه
۶۷ ۶۴مه، ۶۸مه او ۷۲مه مرکه
۶۸ ۷۹مه مرکه
۶۹ ۷۸مه مرکه
۷۰ ۷۴مه مرکه
۷۱ ۷۶مه مرکه
۷۲ ۷۶مه مرکه
۷۳ ۷مه او ۲۴مه مرکه
۷۴ ۲۰مه مرکه

د مخابراتي خدمتونو د بندیز له امله پروازونه لغوه او په ځمکنیو پولو کې خنډونه رامینځته شول. د ګمرک چارواکي د ننوتلو او وتلو د ثبت لپاره انټرنیټ ته اړتیا لري؛ له همدې امله، د زرنج په پوله کې یو سوداګر وویل: "[سلګونه] لارۍ چې د ایران له لارې واردېدونکي توکي په کې بار وو، هلته ودرول شوې. دې وضعیت سوداګرو ته مالي زیانونه اړولي او په ناحقه یې د هغوی وخت ضایع کړی دی."[75]

## په بشري غبرګون یې اغېزه

د بندیز پر مهال، په هېواد کې د ننګونکي بشري وضعیت سربېره، بشري مرستندویانو هڅه کوله چې د اګست د ۳۱ مې زلزلې له امله په ننګرهار، لغمان او کونړ ولایتونو کې د اغېزمنو ولسونو او همدارنګه له پاکستان څخه په زوره د را ایستل شویو خلکو اړتیاوو ته ځواب ووایي.

یوناما د بشري مرستو له کارکوونکو سره خبرې وکړې، هغوی وویل بندیز د دوی چارې ګډې وډې کړې او خلکو ته یې په مهمو مرستو رسولو کې ځنډ رامنځته کړ. مرکه شویو کسانو ویلي چې د بانکولۍ سیسټمونو د بندېدو له امله، دوی ونه توانېدل نغدې پیسې ترلاسه کړي یا بانکي معاملې وکړي تر څو د خپلو بشري چارو ورځني لګښتونه، لکه د کارکوونکو او قراردادیانو معاشونه ورکړي، د سونګ او نور د اړتیا وړ توکي وپېري.[76]

د بشري مرستو یو تن کارکوونکي راپور ورکړ چې د مخابراتي خدمتونو د بندیز له امله زلزله ځپلو سیمو کې د دوی د مرستې رسولو چارې اغېزمنې شوې. پر انټرنېټ د بندېز پر مهال، د یو تېز باران اوبو ځینې هغه خیمې چې د زلزله ځپلو کورنیو لپاره درول شوې وې، له منځه یوړې. په سیمه کې همکارانو نه شو کولای له خپل مرکزي دفتر سره اړیکه ونیسي ترڅو مرسته او امکانات ترلاسه کړي، چې له امله یې د ډوبو شویو خیمو خلکو د دوه ورځو لپاره د خوب ځای نه درلود.[77]

د مخابراتي خدمتونو بندیز له امله د هغو بشري مرستندویه سازمانونو کارونه، چې له پاکستان څخه د راستنېدونکو خلکوملاتړ یې کاوه، په جدي توګه اغېزمن شول.[78] د هغوی په وینا، د دوی د بایومیټریک راجسټریشن پروسې چې انټرنېټ پورې تړلې وې، ناکامې شوې، نو دوی اړ شول چې د خلکو راجسټریشن په لاسي ډول ترسره کړي. دوی همدارنګه نه شو کولای چې بېرته راستنېدونکو ته نغدې پیسې وویشي، ځکه چې د بانکي بندیز له امله دوی نغدې پیسې ختمې کړې وې، او نه یې شو کولای چې په بریښنایي ډول خلکو ته پیسې ولېږدوي، ځکه له انټرنیټ پرته بریښنایي لېږد نشي ترسره کېدای. په کار کې دا ګډوډي د پولې په کمپونو کې د ګڼې ګوڼې لامل شوه، ځکه راستنېدونکي چې معمولا به د نغدو پیسو د ترلاسه کولو وروسته سمدلاسه خپلو سیمو ته تلل، اړ شول چې د پیسو د ترلاسه کولو لپاره اوږد انتظار وباسي. هغوی وویل، ځینې راستنېدونکو لا دمخه ټرانسپورټ برابر کړی و او پرېکړه یې کړې وه چې پرته له کومې نغدې مرستې خپلو ولایتونو ته ولاړ شي.

د مخابراتي خدمتونو د بندیز له امله بېرته راستنېدونکي ونه توانېدل خپلو کورنیو سره اړیکه ونیسي او د خپل ځای ځایګي په اړه ورته خبر ورکړي. مرکه شویو وویل چې یې سرپرسته ښځینه راستنېدونکو ونه شو کولای له خپل محرم سره اړیکه ونیسي چې راشي او دوی له ځان سره کور ته بوځي. هغه کسان چې په زوره ویستل شوي وو، ونه توانیدل چې په پاکستان کې له خپلو کورنیو سره اړیکه ونیسي او خبر ورکړي چې دوی ته څه پېښ شوي دي. یوه مرکه کونکي وویل چې د بندیز په ورځ، د هغه ورور له ایران څخه شړل شوی و او روغتون ته تللی و ځکه چې ډېر ناروغ و، خو ورور یې ونه توانېد چې د کورنۍ له کوم غړي سره اړیکه ونیسي تر څو د خپل ځای په اړه دوی ته مالومات ورکړي.[79]

د مخابراتي خدمتونو بندیز د همغږۍ چارې ګډې وډې کړې، او اړمنو خلکو ته یې مرستې رسولو باندې اغېز وکړ. د بشري مرستو یوې ښځینه کارکونکې وویل:

*"د بندیز پر مهال، ما ایمیلونو، د مالوماتو راټولولو پلټفارمونو، یا د مایکروسافټ ټیمز او واټس اپ په څېر د اړیکو چینلونو ته لاسرسی نه درلود، چې له امله یې د سیمه ییزو ټیمونو سره همغږي ګډه وډه شوه او په بیړنۍ ډول یې د اغېزمنو خلکو راجع کول وځنډېدل... داسې پېښې وې چې سملاسي پاملرنې ته یې اړتیا درلوده، خو موږ د شبکو او انټرنیټ د بندېدو له امله ونه توانېدو چې اقدام وکړو."* [80]

د بشري مرستو یوې موسسې راپور ورکړ چې د انټرنیټ بندیدو په پایله کې د تورخم پولې څخه په تېریدو کې ځنډ له امله لږترلږه دوه په عمر پاخه کسان مړه شوي دي.

د اګست په ۲۲مه نېټه، په هرات ښار کې د درب کندهار په سیمه کې برحاله پولیسو یو سړی وواژه وروسته یې جسد د رینجر موټر شاته کشاوه، او بیا یې په یوې څلور لارې کې د زوړ پوځي ټانک له میل څخه ځوړند. د دغه سړي د وژنې لاملونه تر اوسه نه دي معلوم.

۷۵ ۲۴مه مرکه
۷۶ ۲۲مه مرکه
۷۷ ۲۵مه مرکه
۷۸ ۲۵مه مرکه
۷۹ ۷مه مرکه
۸۰ ۴۸مه مرکه

## پایله

دا لنډ راپور د ۴۸ ساعته مخابراتي خدمتونو د بندیدو له امله د رامنځته شوي زیان په اړه روښانه کتنه وړاندې کوي، او په ځینو مواردو کې د ژوند ګواښونکو او په افغانستان کې انټرنیټي او ټیلیفوني خدمتونو ته د خلکو د نه لاسرسي اغیزو په اړه خبرې کوي.

ټول هېواد - له روغتیایي سیستمونو نیولې تر بانکي سکټور او کوچنیو سوداګریو پورې – اساسا د فعالیت د ترسره کولو لپاره په مخابراتي سیستم متکي دي او افغانانو ته اساسي خدمات وړاندې کوي. افغانان چې لا دمخه په ورځني ژوند کې له سختو ستونزو سره مخ دي، باید نور د مخابراتي خدمتونو بندیزونو سره مخ نه شي، کوم چې د دوی ورځنی ژوند او وړتیا اغیزمنه کوي تر څو خپل اساسي بشري حقونو څخه برخمن شي.
هیواد، او تر ټولو مهم یې خلک باید نور بېځایه او غیر اړین کړاوونو زغملو ته اړ نشي.